بسم الله الرحمن الرحيم

## په تفصيلي ډول د تبرج واقعيت

**پوښتنه:**

السلام‌عليكم‌ورحمت‌الله‌وبركاته!

ښاغلی شيخ صاحب! يوه پوښتنه لرم، هغه دا چې كله ښځې عامه ځايونو ته ځي او خپل مخ پر مكياج سره پټوي، نو ايا دغه ښځې د تبرج په اصطلاح كې شاملې دي؟ په شريعت كې د انوثيت مانا څه ده؟

وعليكم‌السلام‌ورحمت‌الله‌وبركاته!

**ځواب:**

دواړه پوښتنې دې يوه مساله ده، نو دواړو ته يو ځواب وركوم. پخوا مو څو ځلې د تبرج پوښتو ته ځوابونه وركړي وو، چې دلته يې د ۲۰۱٦م، د اكتوبر ۹مې ځواب رانقلوم، انشاءالله همدا به بسنه وكړي.

مخكې له دې چې د دغې مسالې تفصيلي ځواب ته ورشم، په اړه يې ځينې موارد بيانوم، چې د اجتماعي نظام، (ښځې ته كتل) په باب كې په تفصيل سره بيان شوي او دلته يې لويې كرښې رانقلوم:

عامه ځايونو ته چې كله ښځه راوځي، بايد شرعي لباس؛ جلباب واغوندي، خپل عورت پټ كړي او تبرج ونه كړي.

له مخ او د لاسونو له مخونو پرته د ښځې ټول بدن عورت دی او د عورت لوڅول ورته حرام دي، دغه راز دا مساله په توجه جلبولو نه مقيديږي. په دې مانا چې كه د ښځې عورت د نر توجه جلب كړي او كه نه، ښځې ته د عورت لوڅول حرام دي.

تبرج په لغت كې سړيو ته د ښځې د زينت ښكاره كول دي. په عربي كې راغلي دي: تبرج بېگانه وو ته د ښځې د زينت ښكاره كولو دي او دا يو ناوړه عمل دی. خو خپلو مېړونو ته يې زينت ښكاره كول ناوړه او حرام عمل نه دی. په قاموس المحيط كې راغلي (تبرجت)؛ يعنې ښځې خپل زينت خلكو ته وروښود... . په مختار الصحاح كې راغلي: خكلو ته د ښځې ښكلا او زينت ورښودولو ته تبرج وايي. په مقاييس اللغه كې راغلي: تبرج د ښكاره

کولو په مانا دی. تبرج د ښځې هغه ښکلا ښکاره کول دي، چې د «اظهار» او «ښکاره او ظهور» له کلمې څخه پېژندل کېږي. یعنې په تبرج کې لازمه ده، چې د ښځې زینت توجه جلب کړي. داسې لکه، زینت چې د سړي لپاره ننداري ته وړاندې کړي، نو په دغه ډول یې شرعي مانا هم له لغوي مانا سره یو شی ده. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ﴾

(النور: 31)

***ژباړه:*** *باید پښې پر ځمکه په داسې ډول ونه وهي، چې خلک یې پر پټ زینت پوه شي.*

نو باید ښځه په زوره پر ځمکه پښه ونه وهي، چې د زینت غږ یې واورېدل شي او سړی پر دې پوه شي، چې پر پښه یې پایزیب یا کوم بل زینت دی. تبرج په لغت او شریعت کې د ښځې د زینت ښکاره کېدل دي، چې ولیدل شي، نه یوازې زینت.

تبرج د هغه زینت ښکارېدنې په مانا دی، چې نور یعنې پردي خلک یې ویني او دغه مساله د عورت له پټولو سره توپیر لري. ځکه د عورت لوڅول حرام دي، که یې څوک ویني او که نه. تبرج یوازې زینت ته نه وایي او دا باید ووایم چې یو عادي زینت دی، چې د خلکو د توجه لامل نه گرځي او دا زینت ښځو ته روا دی او بل هغه زینت دی، چې د خلکو د توجه جلبولو لامل گرځي، چې همدا زینت د تبرج په نامه یادیږي او حرام دی. دغه راز تبرج په دوو حالاتو کې رامنځته کېږي:

د ښځې د بدن پر مباح برخه زینت؛ یعنې هغه غړي چې عورت نه دي. لکه د لاسونو مخونه، مخ او جامې او دا په داسې حال کې دي، چې د خلکو د توجه جلبولو لامل ونه گرځي.

د ښځې پر نامباح غړي زینت، پرته له دې چې عورت لوڅ کړای شي؛ مثلاً، کله چې ښځه خپل مړوند په دست بند او یا بل کوم څه زینت کړي او کله چې دغه ښځه خپل لاس وښوروي، نو خلک پرې پوه شي د دغه ښځې لباس زینت شوی، نو دا بیا په تبرج کې راځي. دغه راز که چېرې د دغې ښځې لاس پټ هم وي بیا هم تبرج دی.

خو که چېرې د ښځې پر مباح غړي داسې زینت و، چې د خلکو پام یې ځانته رااړاوه، نو دا هم تبرج گڼل کېږي او حرام دی. یعنې په داسې ډول، چې کله ښځه د سړیو تر څنگ تېره شي، د سړیو توجه د هغې ښځیتوب ته رواوړي او که وروانوړي بیا تبرج نه گڼل کېږي. پر دې مسالې پوهېدل کوم ستونزمن کار نه دی، ځکه په ښځو

کې د ښځيتوب او نر کې د نارينه نښې ډېرې واضح دي، ښځه او نر يې ښه پېژني او پر دې هم پوهېږي، چې ايا دغه زينت د توجه جلبولو و او که نه. په ځانګړي ډول ښځه؛ ځکه ښځه پر دې ښه پوهېږي، چې زينت يې عادي دی او که غير عادي؟ ايا د سړيو توجه جلبولی شي او که نه؟

خو د غير مباح غړي زينت، پرته له دې چې عورت ښکاره شي؛ دا داسې دی لکه ښځه چې په خپله پښه پايزيب ټينګ کړي او د تګ پر مهال پښه په داسې ډول پر ځمکه ووهي، چې خلک يې د پايزيب اواز واوري او پرې پوه شي، نو دا ډول عمل تبرج ګڼل کېږي او حرام دی. که څه هم د ښځې پښه په دغه حالت کې پټه وي.

د پورته مطالبو له بيانولو وروسته، ستاسو د پوښتنې د ځواب جزياتو ته ورځم:

د ګوتيو په ګوته کولو سينګار په اړه بايد ووايم؛ که چېرې ګوتيې په داسې ډول وي، چې د چا توجه نه جلبوي، نو پروا نه لري، خو کله کله داسې ګوتيې هم وي، چې ځليږي او يا شرنګهار کوي او د خلکو پام ځانته رااړوي، نو په داسې حال کې يې کارول حرام دي. دغه راز کله کله ښځې داسې غوړولی او يا نور څه کاروي، چې د خلکو پام ځانته رااړوي.

له جلباب څخه بيرون د غاړکۍ پر غاړه کول، که توجه جلب کړي او که نه روا نه دي. ځکه له جلباب څخه موخه دا ده، چې داخلي زينت پټ کړي. دغه راز دا هم روښانه ده، چې غاړکۍ د غاړې سينګار دی او غاړه پخپله عورت ده او دا لازمه ده، چې عورت تر جلباب لاندې پټ شي. که ښځه غاړکۍ اچوي، بايد په جلباب کې يې پټه کړي.

کله چې د لاسونو پر بازوګانو او مړوندونو په داسې ډول د سينګار توکي تړل کېدل، چې که لاسونه وښوروي غږ يې پورته کېږي، نو دغه ډول سينګار بيا تبرج ګڼل کېږي او حرام دی.

جلباب هغه جامه ده، چې د ښځې جامې او زينت پټوي. يعنې پخپله جلباب د زينت ځای نه دی، نو پر جلباب برسېره زينت روا نه دی.

د ښځې سترګې تورول د خلکو نظر نه راجلبوي؛ ځکه رانجه د سترګو په داخل کې وي او که ښځه رنګ په سترګو او يا له سترګو پورته ځای باندې وموښي، نو نظر راجلبوي.

دغه راز که ښځې خپل مخ پاک کړ او چرک ترې ليرې شو او يا هم که يې پر مخ باندې ځواني دانې وي او د مخ په پاکولو سره يې د مخ ښکلا څرګنده شوه او دا يې د مخ عادي حالت و، نو توجه نه راجلبوي. خو که يې پر مخ رنګ وموښه، دا بيا نظر راجلبوي. دغه راز د نظر په جلبولو کې د اوسېدو ځای توپير لري. لکه: په کلي او ښار

کې ژوند کول. مهمه دا ده؛ هغه زينت چې په غير عادي ډول وي او په داسې يوه سيمه کې وي، چې هلته توجه جلبوي، نو دا زينت بيا تبرج ګڼل کېږي.

په پای کې بايد ووايم: د عادت له مخې ښځه پر دې پوهېږي، چې زينت يې د سړيو توجه راجلبوي او که نه؟ يعنې د هغه زينت پېژندل ستونزمن کار نه دی، چې توجه جلبوي او ښځې په خپل احساس سره دغه مساله درک کوي. مسلمانه او تقوا داره ښځه يوازې له حرامو نه، بلکې له هغه څه هم ځان ساتي، چې شک پکې وي. ځينې صحابه وو له ځينو مباحاتو ځان ساته، ځکه ډېر داسې مباحات شته، چې حرامو ته نيږدې دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«لَا يَبْلُغُ العَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ المُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَراً لِمَا بِهِ البَأْسُ»**

***ژباړه:*** *هغه څوک متقي دی، چې د حرام له وېرې ډېر مباحات هم پرېږدي. (دغه حديث ترمذي استخراج کړی او ويلي يې دي، چې حسن دی.)*

هيله ده چې دغه ځواب به ستاسو لپاره بسنه وکړي. الله سبحانه وتعالی له ټولو دا او باحکمته دی.

**ستاسو ورور عطاء بن خليل ابوالرشته**

**ژباړن: حبيب الله حبيب**